امارت اسلامی افغانستان
اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث
ریاست اطلاعات و نشرات

هفته نامه
مدیریت حوادث

۱۵ الی ۲۰ قوس ۱۴۰۴

شماره یکصدو سی و چهارم

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې اداري ودانۍ د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې پرانیسته



له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي کاپیسا ولایت ته سفر وکړ او د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې او د کاپیسا والي قاري احسان الله بریالي، د کاپیسا ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي محمد صابر احمد، د اطلاعاتو او نشراتو رئیس، حافظ محمد یوسف حماد، د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم محب‌الله جاهد، د پروان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم عبدالعلیم افضلي، د بېلابېلو ادارو رئیسانو، ولسوالانو، د ولایت د بېلابېلو ولسوالیو د کلیو متنفذینو، مشرانو او د خبریالانو په شتون کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ...

ادامه در صفحه۲

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او AWEC تر منځ ټولټال د (۴۶۲,۰۶۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په خپل کاري دفتر کې د AWEC موسسې له اجرائیه رئیسې آغلې کوچۍ حسن سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه وکتل او...

ادامه در صفحه ۳

د پېښو چارو د همغږۍ معین د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان...

ادامه در صفحه۴

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او د رها موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د مالي او اداري عمومي رئیس، محترم الحاج مولوي محمد علم عالمیار په خپل کاري دفتر کې د رها موسسې له اجرائیوي رئیس، محمد یوسف حمیدیان سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی...

ادامه در صفحه ۵

@afghanistanndma
Afghanistanndma
andma.gov.af
0202104926

له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د کاپیسا ولایت له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې اداري ودانۍ د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې پرانیسته

له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي کاپیسا ولایت ته سفر وکړ او د ځانګړو مراسمو په ترڅ کې او د کاپیسا والي قاري احسان الله بریالي، د کاپیسا ولایت له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي محمد صابر احمد، د اطلاعاتو او نشراتو رئیس، حافظ محمد یوسف حماد، د پنجشیر ولایت له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم محب‌الله جاهد، د پروان ولایت له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم عبدالعلیم افضلي، د بېلابېلو ادارو رئیسانو، ولسوالانو، د ولایت د بېلابېلو ولسوالیو د کلیو متنفذینو، مشرانو او د خبریالانو په شتون کې له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست نوې جوړه شوې اداري ودانۍ د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۸ نېټه پرانیسته او رسمًا یې ګټې اخیستنې ته وسپارله.

په ننۍ غونډه کې محترم ترابي صاحب ټینګار وکړ چې مناسب کاري چاپېریال د هرې اداري د خدمتونو پر کیفیت او چټکتیا څرګند او مستقیم اغېز لري. نوموړي زیاته کړه چې دا ودانۍ په دریو پوړونو کې جوړه شوې، چې یو پوړ یې تر ځمکې لاندې د ګدام لپاره او دوه نور پوړونه یې د اداري چارو د پرمخ وړلو لپاره ځانګړي شوي دي. دغه پروژه د ۱۳ میلیونه افغانیو په لګښت بشپړه شوې ده او دا پروژې په څلورو نورو ولایتونو سمنګان، کندهار، خوست او میدان وردګ کې په همدې ډیزاین سره بشپړې شوې او یا د بشپړېدو په حال کې دي.

نوموړي د کاپیسا خلکو ته د دې ودانۍ د پرانېستې مبارکي ورکړه او څرګنده یې کړه چې له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري تل هڅه کړې چې د هر ډول ښېښو پر مهال زیانمنو ته بېړنۍ رسېدنه وکړي او دا نوې ودانۍ به په ښه توګه د خدمتونو وړاندې کولو، د بېلابېلو برخو ترمنځ د همغږۍ د زیاتوالي او د ورځنیو اداري چارو د اسانتیا لپاره مهم رول ولوبوي.

همدارنګه د کاپیسا ولایت له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، مولوي محمد صابر احمد د اداري د لوی رئیس له هڅو ځانګړې مننه وکړه او ویې ویل چې پخوا دوی په کرایي ودانۍ کې فعالیت درلود، چې له ګڼو ستونزو سره مخ وو، خو اوس الحمدالله دایمي ودانۍ ترلاسه شوې او په دوامداره توګه به د خلکو په خدمت کې وي.

ورته مهال د کاپیسا والي، محترم قاري احسان الله بریالي د دې ودانۍ د جوړېدو له امله خوښي څرګنده کړه او ویې ویل چې د دې بنسټیزې ودانۍ په جوړېدو سره د کارکوونکو او خلکو ستونزې هوارې شوې او له اداري سره یې د هر ډول همکارۍ ژمنه وکړه.

همدارنګه نورو ګډونوالو هم په خپل وار سره ویناوې وکړې او د دې ودانۍ جوړېدل یې د مناسب کاري چاپېریال د رامنځته کولو او پر وخت د خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې اغېزمن ګام وباله. همدا راز، ټینګار وشو چې د داسې معیاري تاسیساتو جوړول کولای شي د ادارو د ظرفیت لوړولو، د مدیریت ښه والي او د خلکو لپاره د چټکو او باکیفیته خدمتونو د وړاندې کولو په برخه کې مهم رول ولوبوي.

په پای کې له ښېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس ته د درناوي په توګه لنګۍ په سر ور کېښودل شوه او همدارنګه د ولایت مقام له لوري ګډونوالو ته ډالۍ او ستاینلیکونه ورکړل شول.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري او AWEC تر منځ ټولټال د (۴۶۲,۰۶۳) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم نامه لاسليک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئيس، محترم الحاج ملا نورالدين ترابي په خپل کاري دفتر کې د AWEC موسسې له اجرائيه رئيسې آغلې کوچۍ حسن سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه وکتل او د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه يې ورسره لاسليک کړه.

محترم ترابي صاحب د پېښو له امله زيانمنو او د سړې هوا له ګواښ سره مخ کورنيو ته د مرستو پر وخت رسولو ټينګار وکړ او ويې ويل چې د خطرونو کمولو يو له اغېزمنو ميکانيزمونو څخه د سيمه ييزو ظرفيتونو پياوړتيا ده او بايد دې برخې ته لا زياته پاملرنه وشي.

همدارنګه آغلې کوچۍ حسن، د ياد مرکز اجرائيه رئيسې د يادې پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او د پروژې د شفاف او پر وخت پلي کولو ډاډ يې ورکړ.

د يادونې وړ ده، چې د دواړو لوريو تر منځ ټولټال د څلور سوه دوه شپېته زره او شپږ دېرش (۴۶۲,۰۳۶) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاريو تفاهم‌نامه لاسليک شوه، چې له مخې به ياد مرکز د پکتيکا ولايت له پېښو سره د مبارزې رياست په همکارۍ لاندې فعاليتونه ترسره کوي:

۱- لومړی به د پېښو د خطرونو د مديريت لپاره طرحې په روزنيزو غونډو کې ترتيب کېږي او وروسته خلک د اړتيا او لومړيتوبونو له مخې خپلې دوولس (۱۲) کوچنۍ وقايوي پروژې په خپلو کليو کې طرحه کړي او ياد مرکز ته به يې وړاندې کړي، تر څو پروژې عملآ پلي شي.

۲- د برمل او ارګو ولسواليو په کچه د پېښو د خطر مديريت کميټو جوړول؛ چې په دې کې د قرطاسيه باب او معلوماتي موادو په نظر کې نيولو سره د پېښو د مديريت اصولو او تخنيکي طريقو په اړه د دولسو غونډو شوونيز پروګرامونه شامل دي.

۳- د ټولنې په مشرۍ د پېښو د مديريت لپاره به روزنيزې غونډې او عملي فعاليتونه ترسره کېږي، څو د وقايه، چمتووالي او خطر مديريت په برخو کې د ټولنې ظرفيت پياوړی شي. سربېره پر دې درېبعدي نقشه جوړول او د احتمالي خطرونو ارزونه ترسره کېږي او د ټولنې غړي به خپلې څارنيزې طرحې او سيستمونه جوړ کړي. ياد فعاليتونه به د درې کلونو په موده کې د دولسو جلسو له لارې د ټولنې د ټاکل شويو کمېټو لپاره تنظيم او ترسره شي.

۴- ۷۰۰۰ تنه به د درې کلونو په موده کې د ياد رکز له لوري ګومارل شويو ښوونکو له روزنيزو پروګرامونو څخه برخه من شي.

۵- د ټولنې غړي د لوړ خطر لرونکو سيمو د پېژندلو او د کوچنيو پروژو د پلي کېدو د څارنې لپاره زيان‌منو سيمو ته استول کېږي او له دې سيمو څخه به منظمې ليدنې ترسره کېږي، څو هغوی د زيان‌منو او خطرناکو سيمو د دقيقې پېژندنې وړتيا ترلاسه کړي.

د پېښو چارو د همغږۍ معین د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه او څارنه وکړه او د ولایت له والي سره یې وکتل

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، د یو تخنیکي، فني او مسلکي پلاوي په مشرۍ، د هېواد ولایتونو ته د رسمي سفر په دوام، د لغمان، نورستان، کونړ، ننګرهار، بامیان، غور، دایکندي، میدان وردګ، لوګر، پکتیا، پکتیکا، خوست، غزني، زابل، کندهار، ارزګان، هلمند، نیمروز، فراه، هرات، بادغیس، فاریاب، سرپل او جوزجان ولایتونو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د کاري بهیر له څارنې وروسته، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه بلخ ولایت ته ورسېد.

په پیل کې، د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین، د بلخ ولایت له والي، محترم الحاج مولوي محمد یوسف وفا سره د دې ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي بشیر احمد بشرانی په شتون کې وکتل.

دا ناسته د قرآن عظیم الشان د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

د پېښو چارو د همغږۍ محترم معین د نورو ولایتونو د سفرونو یادونه وکړه او د سفر موخه یې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاستونو د عمومي وضعیت څېړل، د اسلامي امارت د عالي مقام مشرتابه د فرمانونو او لارښوونو د پلي کېدو څارنه، د مالي او اداري چارو ارزونه، د هوکړه لیکونو د پلي کېدو څارنه، د وقایوي پروژو، د بشردوستانه مرستو د وېش، د ماین پاکۍ او د نشراتي چارو څېړنه او د ستونزو او وړاندیزونو اورېدل یاده کړه.

هغه ټینګار وکړ چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداره ژمنه ده، چې د خپلو قانوني صلاحیتونو او د دندو په چوکاټ کې به د وقایوي پروژو د پلي کېدو، د زیانمنو ښېرنیو اړتیاوو د پوره کولو او د طبیعي پېښو او خطرونو د مدیریت د ښه والي په برخه کې هر اړخیزه همکاري وکړي.

محترم څارنوال صاحب د بشردوستانه مرستو د وېش بهیر د یادولو ترڅنګ له سروې وروسته او شفافیت سره د طبیعي پېښو له امله زیانمنو ته د دې مرستو پر وېش ټینګار وکړ.

وروسته محترم والي صاحب، د ښه راغلاست ویلو او زیانمنو ته د رسېدنې په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې له هڅو څخه د قدردانۍ ترڅنګ د دې ولایت زیانمنتیا ته په اشارې سره وویل چې د بلخ خلک د طبیعي پېښو له امله په لوړه کچه زیانمن دي او بشردوستانه مرستو او وقایوي پروژو ته اړتیا لري.

په پای کې، محترم وفا صاحب له دې بهیر څخه د خوښي په څرګندولو سره زیاته کړه، چې د دویمو واحدونو له چارو څخه څارنه او څېړنه د حکومتولۍ یو مهم اصل دی او د هر ډول همکارۍ ژمنه یې وکړه.

ورپسې، یاد پلاوي د بلخ ولایت له پېښوسره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه او د یاد ریاست کاري بهیر یې له نږدې وڅاره. په دې لیدنه کې، د پېښو چارو د همغږۍ معین له کارکوونکو سره خبرې وکړې د هغوی ستونزې او وړاندیزونه یې واورېدل او د اسنادونو او فعالیتونو تر ارزونې وروسته یې هغوی ګرندي، پر وخت او اغېزمنو خدمتونو ته وهڅول.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د رها موسسې ترمنځ د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مالي او اداري عمومي رئیس، محترم الحاج مولوي محمد علم عالمیار په خپل کاري دفتر کې د رها موسسې له اجرائیوي رئیس، محمد یوسف حمیدیان سره د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۸ نېټه وکتل او د ګډو همکاریو تفاهم‌نامه یې ورسره لاسلیک کړه.

محترم عالمیار صاحب وویل، چې له موسسو سره د همکارۍ په برخه کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې پالیسي داسې ده، چې تل هڅه کوي له هغوی سره همکاري وکړي ترڅو د هغوی له لارې خلکو ته زیاتې مرستې ورسول شي. نوموړي روانه پروژه ګټوره وبلله او په خپل وخت د پروژې د پلي کولو غوښتنه یې وکړه.

همدارنګه د یادې موسسې رئیس، محمد یوسف حمیدیان، د پروژې په اړه معلومات وړاندې کړل او ویې ویل چې دا یوه څېړنیزه پروژه ده او د پېښو له امله د بې‌ځایه شویو او له ګاونډیو هېوادونو بېرته راستانه شویو کورنیو د ادغام د څرنګوالي په اړه ده او د څېړنې سیمې یې هم د کابل او هرات ولایتونه ټاکل شوي دي.

د یادونې وړ ده، چې د دواړو لوریو ترمنځ ټولټال د دیارلس زره (۱۳،۰۰۰) ډالرو په ارزښت د ګډو همکاریو تفاهم نامه لاسلیک شوه. د دې تفاهم‌نامې له مخې ټاکل شوې چې یاده موسسه به د بې‌ځایه شویو او راستنېدونکو کورنیو لپاره د پالیسیو د پیاوړتیا او د دوامدارو حل‌لارو وړاندې کولو په موخه په افغانستان کې څېړنې ترسره کړي او د سروې او مستقیمو مرکو له لارې به په هرات ولایت کې د بېځایه شویو او راستانه شویو وضعیت او اړتیاوې وڅېړي.

د دې څېړنې پایلې به په یوه جامع څېړنیز راپور کې راټولې شي او په کابل کې به په یوه مشورتي ناسته کې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې سره په همکارۍ له ملي بنسټونو، غیر دولتي موسسو او نړیوالو سازمانونو سره شریکې شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس د کابل-جلال‌اباد لویې لارې ته د ښویېدو په حال کې د غره د یوې برخې د وضعیت د ارزونې په موخه سفر وکړ

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي، په داسې حال کې چې د ننګرهار والي، محترم الحاج ملا ګل محمد (حاجي کاکا)، د لغمان د ولایت مرستیال، محترم مفتي محمد یوسف جمال‌زی، د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم قاري خیرمحمد غازي، د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم قاري داد محمد حسیني، د اطلاعاتو او نشراتو رئیس، محترم حافظ محمد یوسف حماد، د ماین پاکۍ چارو د انسجام او همغږۍ رئیس، محترم قاري نورالدین رستم‌خیل، د ادارې انجنیرانو او د هستوګنې لپاره د آغاخان بنسټ تخنیکي مسوولینو ، د CWSA مؤسسې استازو او د نورو مختلفو ادارو رئیسانو شتون درلود د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۶ نېټه د لغمان ولایت د قرغه‌یي ولسوالۍ په دیم کاسي سیمه کې د ښوییدو په حال کې د غره له سیمې څخه لیدنه او ارزونه وکړه.

محترم ترابي صاحب له مسؤلینو سره په غونډه کې وویل، چې موږ زیانمنو کسانو ته د رسېدنې ترڅنګ د وقایوي پروژو پلي کولو ته لومړیتوب ورکړی، ځکه چې دا د خلکو د ځان او مال د ژغورنې تر ټولو اغېزناکه او اقتصادي لاره ده.

د یادې سیمې له ارزونې وروسته د ادارې لوی رئیس، د ننګرهار والي او اړوندو مسوولینو سره د سلا مشورو پر مهال وویل چې د غره دغه برخه د مسافرو ژوند له جدي ګواښ سره مخ کوي او باید د دې برخې د وېجاړولو چارې په بیړنې ډول پیل شي. نوموړي مسؤلینو ته لارښوونه وکړه چې د لارې د ډېر تګ راتګ له امله باید د غره د ویجاړولو کار په چټک او منظم ډول پرمخ یوړل شي، څو د مسافرو لپاره ستونزې رامنځته نه شي.

د یادونې وړ ده، چې د غره د یادې برخې د ویجاړولو کار به د سه شنبې په ورځ په بشپړ خوندیتوب سره عملاً پیل شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د بیا رغونې د چارو له بهیر څخه څارنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي ننګرهار ولایت ته د خپل سفر پر مهال د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د بیا رغونې له کارونو څخه څارنه وکړه.
د یاد ریاست د بیا رغونې لپاره ټاکل شوی مسؤل، محترم مولوي عبدالخالق عابد او د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس محترم قاري داد محمد حسیني، د بیا رغونې د بهیر د څرنګوالي، د کار د پرمختګ او نورو اړوندو موضوعاتو په اړه بشپړ راپور محترم ترابي صاحب ته وړاندې کړ.
همدا راز، د اداري لوی رئیس، د ریاست د لیدنې پر مهال وویل چې مناسب کاري چاپېریال د خدمتونو د وړاندې کولو پر بهیر مستقیم اغېز لري.
نوموړي مسؤلینو ته لازمي لارښوونې او سپارښتنې وکړې او په چارو کې یې پر شفافیت او چټکتیا ټینګار وکړ.

د پېښو چارو د همغږۍ معین د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه لیدنه وکړه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د پېښو چارو د همغږۍ معین، محترم الحاج ملا عبدالولي څارنوال (حاجي وارث)، جوزجان ولایت ته د خپل رسمي سفر په ترڅ کې، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم مولوي سراج‌الدین سراجی او د مل پلاوي په ملتیا د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۸ نېټه د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ګدام څخه لیدنه وکړه.
په دې لیدنه کې د پېښو چارو د همغږۍ معین د ګدام بېلابېلي برخې لکه د خوراکي او غیــر خوراکي توکو زېرمتونونه، د بیړني حالت تجهیزات، د توکو د ساتنې طریقې، د زېرمتون د ثبت او مدیریت سیستم او د احتمالي پېښو پر وړاندې د ځواب وینې له څرنګوالي څخه لیدنه وکړه.
د جوزجان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو د زېرمتون، د شته مرستو، د وروستي وېش بهیر او بېړنیو اړتیاوو په اړه مفصل او تازه راپور وړاندې کړ. هغوی همدارنګه د مرکزي اداري له همکارۍ او د ولایتونو د ظرفیــت د پیاوړتیا په برخه کې د پام او ملاتړ څخه مننه وکړه.
د پېښو چارو د همغږۍ معین د سیمه ییزو مسؤلینو له هڅو قدرداني وکړه او ټینګار یې وکړ چې باید د زېرمتون دقیق او شفاف مدیریت، د توکو معیاري ساتنه، د طبیعي پېښو پر وړاندې د چټک غبرګون چمتووالی او د اړوندو ادارو ترمنځ همغږي لا پیاوړې شي. نوموړي اړوندو مسؤلینو ته د زېرمتونونو د پیاوړتیا او د بیړنیو حالاتو پر مهال په ښه توګه د رسېدنې په هکله لازمي لارښوونې وکړې.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس د کندهار د راستنیدونکو کډوالو له پنډغالي څخه لیدنه وکړل.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې لوی رئیس الحاج ملا نورالدین ترابي چې د یادې ادارې د کندهار ریاست رئیس قاری عبدالسلام عمري، د کندهار کډوالو او راستنیدونکو ریاست رئیس مولوی ولي جان او د ترانسپورټ ریاست رئیس مولوي ادم صاحب هم ورسره وه د انځرګي په سیمه کې د راستنېدونکو کډوالو له پنډغالي څخه د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه لیدنه وکړه.

ترابي صاحب د پنډغالي له بېلابېلو برخو څخه د نژدې لیدنه وکړه او د راستنېدونکو ورونو حالت يې وڅېړه، د موجودو خدمتونو کچه يې معلومه کړه او د ادارو تر منځ د همغږۍ چارې يې وکتلې.

ترابي صاحب دیاد پنډغالي مسئولینو ته سپارښتنه وکړه چې د راستنېدونکو کډوالو اړتیاوې دې پر وخت، منظم او باکیفیته ډول پوره کړي او د استوګن ځای او لومړنيو خدمتونو اړتیا دې نوره هم لوړه سي.

ترابي صاحب همدارنګه ټولو اړوندو ادارو ته لارښوونه وکړه چې د خلکو د خدمت لپاره خپلې هڅې دوه برابره کړي او د کډوالو د ستونزو د ژر هواري لپاره دې ګډ کار لا چټک او اغېزمن کړي.

د پنډ غالي مسئولینو د ترابي صاحب د راتګ څخه منته وکړه او د لارښوونو د بشپړ تطبیق ډاډ يې ورکړ او وویل چې د راستنېدونکو کډوالو د اسانتیاوو لپاره به له ټولو امکاناتو څخه اعظمي ګټه واخلو.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې د مسلکي ټیم لخوا د کابل— جلال اباد لويه لارې تر منځ د زیانمن شوي غره د ویاجاړولو کار جریان لري

د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه له پېښو سره د مبارزې د آمادگۍ ملي ادارې مسلکي ټیم د کابل-جلال اباد پر لويه لاره د هغه غره د ویجاړولو چارې پرمخ وړي چې له طبیعي پېښو وروسته زیانمن شوی وو.

د یادې ادارې د لوی رئیس محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د ځانګړې هدایت پر اساس د ادارې انجینري او تخنیکي کارکوونکي د ورځې او شپې په مختلفو وختونو کې د غره له ځنډو د نړیدو، د خطر د کمېدو، او د لارې د بشپړې خوندي کېدو لپاره پر ځانګړو تخنیکي کارونو بوخت دي.

دا په داسي حال کي ده چې په همدې اونۍ کې محترم ترابي صاحب د یادي سیمي څخه د نژدې لیدنه وکړل او د یاد زیانمن شوي غره د ویجاړولو پریکړه يې وکړه تر څو خلګ په اسانۍ سره پر دې لويه لاره تګ راتګ وکړي.

له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه ترسره شوه

د وزیرانو شورا د ۱۴۴۳/۵/۱۶نېټې د (۱۵) ګڼې مصوبې د ۱ مادې پر بنسټ، له پېښو سره د مبارزې آمادگۍ ملي ادارې اوونیزه اداري غونډه د دې ادارې د سرپرست الحاج ملا نورالدین ترابي په مشرۍ او د مرکزي رئیسانو په ګډون د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه د دې ادارې په انګړ کې ترسره شوه.

غونډه د قران کریم د څو مبارکو آیتونو په تلاوت سره پیل شوه.

وروسته د اجندا په هره موضوع په جلا جلا ډول هر اړخیزه بحث وشو او د غونډې د ګډونوالو نظرونه په وار سره راټول شول.

د غونډې په پای کې داجندا پر ټولو موضاعوتو باندی لازم تصمیمونه ونیول سول.

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۱ تنو ناروغانو ته نغدي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اکتیډ موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۵ نېټه په سانچارک او ګوسفندي ولسوالیو کې ۱۲۱ تنه ناروغانو ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې چې د مسؤلینو په شتون کې ترسره شوه، ۲۵ تنه ناروغانو ته چې د سرپل مرکز ته راجع شوي وو، هر یو ته ۲,۳۲۰ افغانۍ او ۹۶ ناروغانو ته چې د یادو ولسوالیو روغتیایي مرکزونو ته راجع شوي وو، هر یو ته ۱,۱۶۰ افغانۍ ووېشل شوې، چې ټولټال ۱۶۹,۳۶۰ افغانۍ د یاد شمېر کورنیو لپاره ځانګړې شوې وې.

په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د اکتیډ موسسې څخه مننه او قدرداني وکړه او د دې ډول مرستو د دوام غوښتنه یې وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ کار ساخت یک دیوار استنادی گبیونی را در ولسوالی زاری تکمیل و به بهره‌برداری سپرد

بر اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ کار ساخت یک دیوار استنادی گبیونی را در مسیر مواصلاتی درز ولسوالی زاری بتاریخ ۱۵ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق تکمیل و رسما آن را به بهره‌برداری سپرد.

دیوار یادشده به طول ۱۰۰ متر، عرض ۲ متر و ارتفاع ۳ متر و به هزینه نه‌صد و نود و هفت هزار و پنجصد(۹۹۷۵۰۰) افغنی تطبیق شده و هدف آن استحکام کنارهٔ مسیر مواصلاتی‌ای است که ۱۶ قریه را به مرکز ولسوالی وصل می‌نمای میباشد. این مسیر در سال های گذشته همه‌ساله به دلیل بارندگی‌های موسمی و سرازیرشدن سیلاب‌ها مسدود می‌شد که مشکلات فراوانی برای باشنده‌گان ایجاد می‌کرد. با ساخت این دیوار، مشکل مسدود شدن راه رفع گردیده و از فرسایش خاک اطراف آن نیز جلوگیری خواهد شد.

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۴۲ کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د افغان ځوانانو خدماتي موسسې (AYSO) ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت په ډانګام ولسوالۍ کې ۱۴۲ متسحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۵ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، ۶ لیټره غوړي، ۸ کیلو دال او ۱ کیلو مالګه ووېشل شوه.

د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۵۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د MHI موسسې تر منځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د سمنګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په مالي ملاتړ، د دې ولایت په فیروزنخچیر ولسوالۍ کې د وروستۍ زلزلې له امله ۱۵۰ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۵ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۵۰ کیلو اوړه، ۱۰ کیلو وریجې، ۵ لیتره غوړي، ۴ کیلو لوبیا، ۳ کیلو بوره، ۱ کیلو چای، ۲ تختې کمپلې او د ژمنۍ البسو یو کېټ ووېشل شو.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر کار پاک‌کاری بستر دریا را در منطقه زمان کور آغاز کرد

مبتنی بر هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث در رابطه به پاک پاک کاری مسیر سیلبرها و سیلاب، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با استفاده از ماشینری کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث و مواد سوخت آن ریاست، کار پاک‌کاری بستر دریا را در منطقه زمان کور، ولسوالی عنابه بتاریخ ۱۵ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق آغاز کرد.
طبق گزارش‌های هیئت تخنیکی کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث، آب‌خیزی اخیر خسارات سنگینی بر حاصلات زراعتی باشنده‌گان محل وارد کرده و راه‌های مواصلاتی قریه‌جات دربند، سنگین و فراج را به روی مردم مسدود ساخته بود.
علاوه بر این خسارات، راه‌های مواصلاتی چندین پوسته امنیتی نیز بسته شده و تهدیدات جدی متوجه یک پایه پل موتررو در این ساحه به مشاهده می‌رسید که با تکمیل این پروژه تحدید مذکور از بین خواهد رفت.

د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یو ګبیوني دیوال جوړولو کار بشپړ او ګټې اخستنې ته وسپاره

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله تعالی د شفقت له مخې، چې د یو میلیون افغانیو په ارزښت یې د هر ولایت لپاره یوه بېړنۍ پروژه منظوره کړې وه، د کندز ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په علي آباد ولسوالۍ کې د یو ګبیوني دیوال جوړولو کار بشپړ کړ او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۵ نېټه رسماً یې ګټې اخیستنې ته وسپاره.

دا دیوال د ۳۷۵ متر مکعب په ټول حجم، ۱۵ متره اوږدوالي، ۶ متره لوړوالي او په بېلا بېلې لوړوالي کې له ۳ څخه تر ۶ متره په پلنوالي او د نه سوه نه څلوېښت زره او دوه سوه پنځوس افغانيو (۹۴۹,۲۵۰) افغانیو په لګښت پلي شوي دی.

د یادونې وړ ده، چې د دې پروژې په پلي کېدو سره هستوګنیز کورونه، کرنیزې ځمکې، باغونه او یو باب ښوونځی د سېلاب له احتمالي خطر څخه خوندي کړل شول.

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۴۵ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د بدخشان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د پرېکړې له مخې او د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) په ملاتړ، د دې ولایت د شهر بزرګ ولسوالۍ په چوګاني کلي کې د تېرې زلزلې له امله ۲۴۵ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۶ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۲۰۰ کیلو اوړه، ۱۸.۲ کیلو غوړي، ۲۵ کیلو دال نخود، ۲ کیلو مالګه، ۶ کیلو سوپر سریال، ۳ کیلو پلمپي او ۲.۱ کیلو بسکېټ ووېشل شول.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب برای ۳۰۱ خانواده آسیب‌دیده کمک‌های نقدی جهت ساخت و ترمیم خانه‌ها توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامهٔ امضاشده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه دارت، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت فاریاب با حمایت مالی مؤسسه متذکره، برای ۳۰۱ خانواده آسیب‌دیده در ولسوالی بلچراغ آن ولایت که خانه‌های‌شان بر اثر رویدادهای طبیعی تخریب شده بود در مرحله سوم کمک‌ها، بتاریخ ۱۶ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی جهت ساخت و ترمیم منازل توزیع نمود.

در این روند با حضور مسئولان، برای ۸۸ خانواده جهت ترمیم جزئی به هر کدام مبلغ ۸,۷۵۰ افغانی، برای ۸۵ خانواده جهت ترمیم اساسی به هر کدام ۱۴,۵۹۰ افغانی، برای ۶۴ خانواده جهت ساخت یک اتاق سرپناه به هر کدام ۲۶,۵۹۰ افغانی و برای ۶۴ خانواده جهت ساخت دو اتاق سرپناه به هر کدام ۳۵,۱۴۰ افغانی توزیع شد که در مجموع، مبلغ پنج میلیون و نه‌صد و شصت هزار و هشت‌صد و هفتاد (۵,۹۶۰,۸۷۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

کار استحکام دیوار گبیونی یک مکتب در ولایت پنجشیر آغاز شد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پنجشیر با همکاری باشندگان قریه ملسپه، بتاریخ ۱۷ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کارهای تحکیم دیوار حفاظتی گبیونی مکتب «بی‌بی عایشه صدیقه» را که بر اثر افزایش اخیر سطح آب آسیب دیده بود، آغاز کرده است. این دیوار ۷۰ متر طول و ۱ متر عرض دارد و به دلیل خسارت‌های گذشته نیاز فوری به استحکام و بازسازی داشت.

در کنار این اقدام، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث برای افرادی که در اجرای این کارها همکاری کرده‌اند، کمک‌های غذایی نیز توزیع می‌کند تا از همکاری آنان به‌گونه عملی قدردانی شود.

بر اساس گزارش هیأت تخنیکی کمیسیون ولایتی مبارزه با حوادث، کارهای تحکیم این دیوار علاوه بر جلوگیری از تخریب‌های بیشتر، نقش مهمی در حفاظت این مرکز آموزشی ایفا خواهد کرد.

د میدان وردګ ولایت په جلریز ولسوالۍ کې ۸ بوشکه يي ماینونه کشف او خنثی شول

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې، د ایریا ماین پاکۍ مؤسسې QRT-04 تخنیکي ټیم د دې ولایت د جلریز ولسوالۍ په مامکی سیمه کې ۸ عدده بوشکه يي ماینونه کشف او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه په خوندي توګه خنثی کړل .

د ماینونو او ناچاوده توکو د خطرونو د کموالي په موخه د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د ایریا ماین پاکۍ مؤسسې په همکارۍ د ولایت په سطحه ګرځنده تخنیکي ټیمونه موظف کړي، تر څو په پاتې سیمو کې د چاودیدونکو توکو له امله د احتمالي پېښو رامنځته کېدو خطرونو کم کړي.

د یادونې وړ ده، چې د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خلکو غوښتنه کوي چې د هر ډول مشکوک یا چاودېدونکو توکو د لیدو په صورت کې، ژر تر ژره له اړوندو مسؤلینو سره اړیکه ونیسي، تر څو د خنثی کولو په برخه کې یې اړین اقدامات ترسره شي.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بادغیس برای ۳۶۵ خانواده متاثر از خشکسالی در ولسوالی جوند مساعدت غذایی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با موسسه خدماتی جوانان افغان که تمویل کننده پروژه آن برنامه جهانی غذا(WFP) می‌باشد، ریاست آمادگی مبارزه حوادث ولایت بادغیس با حمایت موسسه مذکور، بتاریخ ۱۷ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۳۶۵ خانواده متاثر از خشکسالی در ولسوالی جوند مساعدت غذایی توزیع کرد.

در این روند در حضور مسوولان به عنوان دور دوم و سوم، به هر خانواده ۱۰۰ کیلو آرد، ۷ لیتر روغن، ۸ کیلو دال و یک کیلو نمک توزیع شد.

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په مرکز قلعه نو او آب کمري ولسوالۍ کې د درې لویو وقایوي پروژو د پلي کولو کار پیل کړ

د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) سره له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د مقام د همغږۍ پر بنسټ، د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یاد سازمان په ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه د یاد ولایت په مرکز قلعه نو او آب کمري ولسوالۍ کې د درې استنادي دیوالونو د جوړولو کار پیل کړ.

لومړۍ پروژه په ده سرخک کلي کې د ۱۶۸ متره په اوږدوالي او ۴.۷۰ متره په لوړوالي د استنادي دیوال جوړولو،

دویمه پروژه د مرکز قلعه نو په آبدول کلي کې د ۲۵۶ متره په اوږدوالي او ۴.۵۰ متره په لوړوالي د استنادي دیوال جوړولو او درېیمه پروژه د آب کمري ولسوالۍ د آغک په کلي کې د ۲۲۶ متره په اوږدوالي او ۴.۹۰ متره په لوړوالي د استنادي دیوال د جوړولو ده.

د یادونې وړ ده، چې د دغو پروژو په پلي کېدو سره به شاوخوا ۵۰۰ هستوګنځایونه، ۲۰۰ جریبه کرنیزه ځمکه او ټولګټي تاسیسات د سیلابونو له احمالي خطرونو څخه خوندي شي.

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۲۰ مستحقو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېټې د پرېکړې او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۱۲۰ مستحقو کورنیو ته په بازارک کې له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې یوه بوری اوړه، یوه بوری وریجې، نیم کیلو چای او پنځه کیلو بوره ووېشل شوه.

د کابل ولایت په ګلدره ولسوالۍ کې د خوړ سیمې د پاکولو له کارونه څخه څارنه وشوه

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي د لارښوونې پر بنسټ، د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس، محترم الحاج مولوي نجیب الله د خپل تخنیکي ټیم په ملتیا د کابل ولایت د ګلدرې ولسوالۍ په ده نو کلي کې د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه د خوړ سیمې د پاکولو له کارونو څخه لیدنه او څارنه وکړه.

د خوړ د سیمې پاکولو چارې له پېښو سره د مبارزې آمادګي ادارې له بودجې څخه د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لورې د ګلدرې ولسوالۍ د خلکو په غوښتنې څه موده وړاندې د مسؤلینو په شتون کې پیل شوې وې، او د مهال د پاکولو چارې له پلان سره سم پر مخ رواني دي او په نږدې راتلونکې کې به بشپړې شي، چې په پایله کې یې به د سیمې د اوسېدونکو کرنیزې ځمکې او باغونه د سېلاب له خطره څخه خوندي پاتې وي.

په ارزګان ولایت کې چاودېدونکي توکي کشف او خنثی شول

د ارزګان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ له مخې د DAPA ماین پاکۍ موسسې تخنیکي ټیم د یاد ولایت د مرکز ترینکوټ د دیکلنګي په سیمه کې له تېرو جګړو څخه پاتې شوي دوه عدده چاودېدونکي توکي کشف او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه په خوندي توګه له منځه یوړل.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو له خلکو وغوښتل چې د ماینونو او شکمنو توکو د لیدو په صورت کې له مسؤلینو سره اړیکه ونیسي څو د خلکو د ځان او مال د خوندیتوب لپاره لازم ګامونه واخیستل شي.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا برای ۸۱۶ خانوادۀ عودت‌کنندۀ اجباری کمک‌های غذایی و غیرغذایی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت پکتیا، در ولسوالی‌های زرمت و روحانی بابا آن ولایت، برای ۸۱۶ خانوادۀ عودت‌کنندۀ اجباری پس از سروی، بتاریخ ۱۷ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های غذایی، غیرغذایی و نقدی توزیع کرد.

در این روند، در حضور مسؤولان، از سوی ریاست آمادگی مبارزه با حوادث برای هر خانواده ۵ کیلو بوره، نیم کیلو چای سیاه توزیع شد و از جمله خانواده‌های مذکور، برای ۶۱۶ خانواده هر یک ۱ تخته کمپل، ۴۶۱ خانواده هر یک ۵۰ کیلو گندم، ۳۵۵ خانواده هر یک ۵۰ کیلو آرد توزیع گردید. همچنان از سوی ریاست انکشاف دهات برای ۲۰۰ خانواده هر یک ۱ تخته کمپل و برای ۵۰ خانواده هر یک ۱ باب خیمه توزیع شد و از سوی مقام ولایت برای خانواده‌های عودت‌کننده یک ونیم میلیون (۱,۵۰۰,۰۰۰) افغانی پول نقد توزیع گردید.

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۳۲ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، ۴۳۲ کورنیو ته چې د طبیعي پېښو له امله په جوند او تګاب ولسوالیو کې زیانمنې شوې وې له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه خوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۳۳ عدده د غوښې کنسرو، ۳ کیلو بوره او نیم کیلو چای ووېشل شو.

د لوګر ولایت د مرکز په آبچکان او بیدک کلیو کې ناچاوده توکي کشف او خنثی کړل شول

د لوګر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د هلو ټرسټ ماین‌پاکۍ نړیوالې مؤسسې له تخنیکي ټیم سره په همکارۍ، وتوانېد چې د تېرو جګړو پاتې ناچاوده توکي د یاد ولایت د مرکز پل علم په دشت آبچکان او دشت بیدک سیمو کې کشف او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۷ نېټه په خوندي ډول شنډ کړي.

د معلوماتو له مخې، په آبچکان سیمه کې ۴ عدده او په بیدک سیمه کې ۳ عدده نه‌چاوده توکي کشف او په خوندي ډول له منځه یووړل شول.

د مسؤولینو په وینا، دا توکي د تېرې جګړې پاتې شوني وو او د سیمې د اوسېدونکو لپاره یې جدي خطر رامنځته کړی و، د خنثی کولو په عملیاتو کې ټولټال ۲۰۰ ګرامه چاودېدونکي توکي، ۶ عدده پټاقي او ۶ متره فلیته ثانیه‌سوز کارول شوي دي.

د ننګرهار ولایت په مهمند دره ولسوالۍ کې د یو محافظوي دېوال د جوړولو کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د ننګرهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د آسیا په کچه د نړیوالو خدمتونو موسسې (CWSA) په مالي ملاتړ، د دې ولایت د مهمند درې ولسوالۍ په هزار ناوجار کلي کې د ۲۳۵ متره په اوږدوالي او ټولټال د اته دېرش زره او اته سوه یو پنځوس (۳۸,۸۵۱) ډالرو په ارزښت د یو محافظوي دېوال جوړولو کار بشپړ کړ او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۸ نېټه ګټې اخیستنې ته یې وسپاره.

د دې پروژې کارونه د نوي سادات ساختماني شرکت له لوري ترسره شول او د پروژې په بشپړېدو سره ۵۰۰ کورنۍ، زرګونه جریبه کرنیزه ځمکه، جوماتونه او ښوونځي د سیلاب له خطره څخه خوندي شول.

د سیمې اوسېدونکو د پروژې د ګټې اخیستنې په پار خوښي وښوده او د هغوی د ځان او مال د خوندیتوب په برخه کې یې دا یو مهم ګام وباله او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او یادې موسسې څخه مننه او قدرداني وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولای بغلان برای ۵۲۵ خانواده تخم بذری سبزیجات توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامهٔ امضاشده میان ادارهٔ ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسهٔ JCSSO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری این مؤسسه، برای ۵۲۵ خانوادهٔ مستحق در ولسوالی نهرین پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۸ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق تخم چهار نوع سبزیجات را توزیع نمود.

در این روند، برای هر خانواده در حضور مسئولان، یک کیلو تخم بامیه، گشنیز، پالک و شلغم توزیع شد.

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په ماله کلي کې د یو پل د دیوال د استحکام کار پیل کړ

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست او د ولایت مقام د ماله کلي د اوسېدونکو په همکارۍ، د یاد کلي د پیاده رو پل د دیوال چې د تېرو اوبو لوړېدو له امله زیانمن شوی و، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۸ نېټه د استحکام کار پیل کړ.

یاد دیوال ۱۰ متره اوږدوالی، ۱ متر پلنوالی او ۲ متره لوړوالی لري چې له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دی فعالیت د اسانتیا لپاره ۲۰ بکسه ګبیون برابر کړي دي، څو د تحکیم کارۍ چارې په اغېزمن ډول ترسره شي.

د دی اقدام ترڅنګ، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د سیمې اوسېدونکو او هغو کسانو ته چې د کار په ترسره کولو کې مرسته کوي، د قدردانۍ په توګه د خوراکي توکو مرستې هم وېشي.

له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمیسیون تخنیکي پلاوي د راپور له مخې، د یاد دیوال استحکام به د نورو احتمالي وېجاړیو د مخنیوي تر څنګ، د پیاده رو لارې د خوندي تګ راتګ په تېنګښت کې مهم رول ولوبوي.

کار تخریب چهار کتله سنگ بزرگ در ساحه کارته سخی شهر کابل آغاز شد

به اساس هدایت محترم الحاج ملا نورالدین ترابی، رئیس عمومی ادارۀ ملی آمادگی مبارزه با حوادث، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل کار تخریب چهار کتله سنگ بزرگ را در ناحیۀ سوم شهر کابل، گذر چهارم منطقۀ کارته سخی، در تپه کارته سخی، کنار مسجد سلام، بتاریخ ۱۹ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق به‌گونۀ مصئون آغاز کرد.

عملیات تخریب این سنگ‌ها با حضور محترم مولوی نجیب‌الله انوری، رئیس آمادگی مبارزه با حوادث ولایت کابل، انجنیر اداره و مسئولین محل آغاز شد. با تخریب این کتله سنگ‌ها، حدود ۳۰۰ خانۀ مسکونی، سرک جوار مغزن، راه‌های فرعی رفت‌وآمد باشندگان محل و همچنان مسجد و زیارت کارته سخی از خطر لغزش احتمالی سنگ‌ها در امان خواهند ماند.

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۳۶۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي مرستې ووېشلې

د بادغیس ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت په مرکز قلعه نو کې د طبیعي پېښو له امله ۳۶۸ زیانمنو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۸ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۴۴ عدده د غوښې کنسرو، ۳ کیلو بوره، نیم کیلو چای او له یاد شمېر کورنیو څخه ۳ کورنیو ته چې کورونه یې د اورلګېدنې له امله په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه هم ووېشل شوه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده از زلزله کمک های نقدی و غیرخوراکی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه‌ای که میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه حمایت از کودکان (Save The Children) به امضا رسیده است، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری مالی و تخنیکی این مؤسسه، برای ۲۰۰ خانواده آسیب‌دیده در قریه های شیمل، کندک، وایگل و کشموند قلعه از مربوطات ولسوالی دره‌نور که در اثر زلزله متضرر شده بودند، پس از انجام سروی، بتاریخ ۱۹ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک‌های نقدی و غیرخوراکی به هدف تأمین نیازهای مرتبط به حفاظت کودکان، مواد غذایی و لباس‌های زمستانی توزیع گردید.

در این روند، با حضور مسئولان، برای ۵۶ خانواده آسیب‌دیده، هر خانواده مبلغ ۹۸۰۰ افغانی کمک نقدی توزیع گردید که مجموع این کمک‌ها به ۵۴۸,۸۰۰(۵۴۸,۸۰۰) افغانی می‌رسد. همچنان برای ۱۴۴ خانواده دیگر، بسته‌های غیرخوراکی شامل ۴ تخته کمپل یک‌نفره، یک تخته کمپل دونفره، ۶ جفت بوت زمستانی برای کودکان و بزرگسالان، ۱۲ عدد جاکت زنانه و مردانه، ۱۲ جفت جوراب، ۴ جفت دستکش، ۲ عدد شال زنانه، ۲ عدد پتو مردانه، ۲ عدد بکس و ۲ عدد کلاه زمستانی توزیع گردید.

خانواده‌های مستفیدشده با ابراز خرسندی از دریافت این کمک‌ها، از ریاست آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه حمایت از کودکان قدردانی نمودند.

د پنجشیر ولایت د پیاوشت د کلیو او د زمانکور سیند له وقایوي فعالیتونو څخه ښارنه وشوه

د پنجشیر ولایت له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمیسیون د څارنې ټیم د دې ولایت په دوو سیمو کې د وقایوي فعالیتونو له بهیر څخه لیدنه او ارزونه وکړه. د رخه ولسوالۍ په پیاوشت کلي کې د نښلوونکي سړک د تحکیم بهیر په حضوري ډول وڅارل شو. له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست اړین مواد، لکه د ګبیون بکسونه چمتو کړي او سیمې ته یې انتقال کړي دي. د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه د تثبیت او د ګبیونونو د نصبولو عملیات د ځایي خلکو په مرسته د پلان او تخنیکي معیارونو سره سم روان دي.

د عنابه ولسوالۍ په زمانکور کلي کې د اوبو د مناسب جریان لپاره د لارې برابرولو او د اوبو د لوړېدو د مخنیوي په موخه له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له لوري د ځایي خلکو په همکارۍ د یو عراده اسکواټور په کارلو سره د سیند د پاکولو بهیر ترسره شو. د زیاتو خاورو او اضافي موادو لویه برخه له لارې لیرې شوې ده.

په پای کې، د تخنیکي معیارونو د رعایت، د خوندیتوب اصول او د کار د چټکتیا په برخه کې ساحوي مسؤلینو ته اړین لارښود ورکړل شول تر څو پروژې په ښه کیفیت او په ټاکل شوي وخت کې بشپړې شي.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ برای ۱۱۴ خانواده زلزله‌زده مساعدت نقدی توزیع کرد

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بلخ با حمایت مالی کمیته ولایتی رسیدگی به زلزله زدگان اخیر، برای ۱۱۴ خانواده که از اثر زلزله اخیر در ولسوالی شولگره آسیب دیده بودند، بعد از سروی بتاریخ ۲۰ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق کمک های نقدی توزیع کرد.

در این پروسه با حضور مسئولان، برای ۱۰ خانواده که میزان خسارات آن بیشتر بود به هر کدام مبلغ ۳۰،۰۰۰ افغانی و برای ۱۰۴ خانواده دیگر که میزان خسارات آن کمتر بود به هر کدام مبلغ ۵،۰۰۰ افغانی توزیع شد که در مجموع مبلغ هشت صدو بیست هزار(۸۲۰،۰۰۰) افغانی برای این تعداد خانواده اختصاص یافته بود.

قابل ذکر است که روند رسیدگی برای سایر آسیب دیده‌گان در سطح این ولایت جریان دارد.

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۴۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې

د سرپل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له خپلو شته امکاناتو څخه په ګټې اخیستنې سره ۴۰ کورنیو ته چې د زلزلې او اورلګېدنې له امله زیانمنې شوې وې، له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې د مسؤلینو په شتون کې له یادې جملې ۵ کورنیو ته چې کورونه یې په بشپړ ډول ویجاړ شوي وو، هرې کورنۍ ته یو باب خیمه، دوه بورۍ غنم، دوه پاکټه مکروني، ۱۰ کیلو بوره او ۳۵ نورو کورنیو هرې یوې ته دوه بورۍ غنم، دوه پاکټه مکروني او ۱۰ کیلو بوره وویشل شوه.

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۳۴ کورنیو ته خوراکي او غیر خوراکي مرستې وویشلې

د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کابل ولایت محترم مقام په لارښوونه، د دې ولایت اړوند ۱۳۴ مستحقو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۹ نېټه خوراکي او غیر خوراکي مرستې وویشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته د مسؤلینو په شتون کې ۱ بورۍ ۲۵ کیلویي اوړه، ۱ بورۍ ۱۲.۵ کیلویي وریجې، ۵ لیتره غوړي، یو کارتن روغتیایي کېټ چې ۱۶ قلمه مواد لري، او ۵۰ پاکټه د اوبو پاکولو ټابلېټ وویشل شول.

په پای کې د مرستو ترلاسه کوونکو کورنیو د کابل ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له مسؤلینو څخه د مرستو له امله مننه او قدرداني وکړه.

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۲۰ زیانمنو کورنیو ته خوراکي، غیرخوراکي او نغدي مرستې ووېشلې

د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د یاد ولایت په مرکز او بېلابېلو ولسوالیو کې د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه ۱۸ زیانمنو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي او د یو شهید ورثه او د ټپي کورنۍ ته نغدي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې له سروې وروسته او د ولایت مقام او د کډوالو چارو پلاوي په شتون کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تورچای، ۲ تختې کمپلې، ۳ جوړه څپلکې او له دې شمېر څخه یوې کورنۍ ته یو باب خیمه ووېشل شوه. همدارنګه، د یو شهید ورثه ته ۲۰,۰۰۰ افغانۍ او د ټپي کس کورنۍ ته ۱۰,۰۰۰ افغانۍ نغدې پیسې ووېشل شوې.

په فراه ولایت کې ناچاوده توکي کشف او خنثی شول

د فراه ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همغږۍ پر بنسټ د DRC ماین پاکۍ نړیوالې موسسې تخنیکی ټیم د یاد ولایت مرکز فراه په ګینهکان او اسحاق زی کلیو کې د ماین پاکۍ عملیاتو په ترځ کې یو فیر د هاوان مرمۍ او دوه فیره د توپ مرمۍ کشف او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه په خوندي ډول خنثی کړې.

دا ناچاوده توکی د تېرو جګړو پاتې شونی وو او د سیمې د اوسېدونکو لپاره خطر پېښ کړی و، له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسؤلینو له خلکو وغوښتل چې د هر ډول ناچاوده توکو د لیدو په صورت کې له اړونده مسؤلینو سره اړیکه ونیسی څو د تلفاتو او خساراتو د مخنیوی لپاره اړین اقدامات ترسره شی.

د یادونې وړ ده، چې د خلکو د ځان او مال د خوندیتوب لپاره د ولایت په کچه د ماینونو او ناچاوده توکو د موندلو او له منځه وړلو بهیر دوام لری

د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۱۴ زلزله ځپلو کورنیو ته غیرخوراکي مرستې ووېشلې

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي ادارې او د اسلامیک ریلیف موسسې (IRW) موسسې ترمنځ د لاسلیک شوي هوکړه لیک له مخې، د کونړ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د یادې موسسې په همکارۍ، د دې ولایت د شوکۍ ولسوالۍ ډیوه ګل درې زوړ کلي پنډغالي کې ۱۱۴ زلزله ځپلو کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱ د پلخنځي کېټ، ۱ د ژمنۍ البسې کېټ او ۳ تختې کمپلې ووېشل شوې.

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۹۰ مستحقو کورنیو ته د خوراکي او غیرخوراکي توکو مرستې ووېشلې

د لغمان ولایت محترم مقام د لارښوونې پر بنسټ, د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دې ولایت د بېلا بېلو ولسوالیو اړوند ۹۰ مستحقو کورنیو ته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.
د مرستو د وېش بهیر د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ رئیس, قاري خیر محمد غازي ، د ولایت مقام د دفتر رئیس قاري شکرالله کاوون او د کلیو د پراختیا ریاست استازي, مولوي فضل الرحمن په شتون کې ترسره شو.
په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۵۰ کیلو اوړه، د یونیسف ژمنۍ البسې کیټ، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تور چای او دوه تختې کوچنۍ کمپلې ووېشل شوې.
مرستهاخیستونکو کورنیو د دغو مرستو په ترلاسه کولو سره خوښي وښوده او د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د دوامداره رسېدنې په پار یې مننه وکړه.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار برای ۱۹۱ خانواده زلزله‌زده در ولسوالی دره‌نور مساعدت غیر خوراکی توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث با مؤسسه حمایت از کودکان(Save The Children)، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت ننگرهار با همکاری مالی و فنی این مؤسسه، کمک‌های غیرخوراکی را به ۱۹۱ خانواده زلزله‌زده در مناطق مختلف ولسوالی دره نور بتاریخ ۲۰ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق توزیع نمود.
در این روند، به هر خانواده، ۴ تخته کمپل یک‌نفره، ۱ تخته کمپل دونفره، ۴ جفت بوت زمستانی پسرانه و دخترانه، ۲ جفت بوت چرمی برای مردان و زنان، ۲ عدد جاکت زنانه و مردانه، ۵ عدد جاکت پشمی پسرانه و دخترانه، ۱۲ جفت جوراب، ۴ جفت دستکش پشمی، ۲ عدد شال پشمی زنانه، ۲ عدد پتو پشمی مردانه، ۲ عدد بکس، ۲ عدد کلاه زمستانی پسرانه و دخترانه توزیع شد.
پس از دریافت کمک‌ها، خانواده‌های مستحق ابراز خوشحالی کردند و از ادارات مربوطه تشکر کردند که به موقع به مشکلات آنها رسیدگی کرده‌اند. همچنین آنها درخواست کردند که کمک‌های بیشتر برای آنها ادامه یابد.

ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان برای ۵۲۵ خانواده تخم سبزیجات توزیع کرد

بر اساس تفاهم‌نامه‌ی امضا شده میان اداره ملی آمادگی مبارزه با حوادث و مؤسسه JCSSO، ریاست آمادگی مبارزه با حوادث ولایت بغلان با همکاری مؤسسه متذکره، پس از انجام سروی، بتاریخ ۲۰ جمادی الآخر سال ۱۴۴۷ هـ ق برای ۵۲۵ خانواده مستحق در ولسوالی برکه آن ولایت چهار نوع تخم سبزیجات توزیع کرد.
در این روند با حضور مسئولان، برای هر خانواده یک کیلو تخم بامیه، گشنیز، پالک و شلغم توزیع شد.

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست په مزار شریف ښار کې ۴۰ زلزله ځپلو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د بلخ ولایت له پېښو سره د مبارزې ولایتي کمېسیون د پرېکړې پر بنسټ، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د همکارو موسسو په ملاتړ، د مزار شریف ښار د بېلابېلو ناحیو اړوند ۴۰ کورنیو ته چې د وروستۍ زلزلې له امله زیانمنې شوې وې، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړ کې د SFL موسسې له لوري چې د پروژې تمویل کوونکی یې د خوړو نړیوال پروګرام (WFP) دی، هرې کورنۍ ته ۱۰۰ کیلو اوړه، یو کیلو مالګه، دوه کیلو بسکېټ، ۱۰ لیتره غوړي، ۱۲.۵ کیلو دال نخود او د یادو توکو سربېره شیدې خوره ماشومانو او امېندوارو مېرمنو لرونکو کورنیو ته ۱.۵ کیلو پلمپي او ۳ کیلو سوپر سریال، د ماشومانو د ملاتړ موسسې له لوري هرې کورنۍ ته یوه بسته کمپله، یوه بسته ژمنۍ البسه او د WAAK-UNICEF موسسې له لوري هرې کورنۍ ته ۲۵ قلمه توکي لرونکې یوه فامیلي بسته ووېشل شوه.

د لغمان ولایت په بېلا بېلو سیمو کې د بېړنیو حالاتو د مدیریت د وسایلو درې کانټینرونه ځای پر ځای شول

د لغمان ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست د کډوالۍ نړیوال سازمان (IOM) په مالي ملاتړ، د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۵ نېټه د دې ولایت د علینګار ولسوالۍ په روغاني سیمه، د علیشنګ ولسوالۍ په رحین سیمه او د مرکز مهتر لام په ابوزیي برنالاوي سیمه کې د بېړنیو حالاتو پر مهال د لټون، ژغورنې او مرستو رسولو د عملیاتو ترسره کولو لپاره د ۵۹ قلمه وسایلو درې کانټینرونه ځای پر ځای کړل.

د کانټینرونو د سپارلو تر څنګ، د سیمو اوسېدونکو ته د دې وسایلو د کارولو او د بېړنیو حالاتو د مدیریت په هکله عملي او نظري روزنه هم ورکړل شوه، څو د پېښو په وخت کې سم، پر وخت او اغېزمن کړنې ترسره شي.

له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست مسوولینو څرګنده کړه چې د دې نوښت موخه د طبیعي پېښو په وړاندې د ټولنې د چمتووالي کچه لوړول، د خطر پر مهال د انساني زیانونو مخنیوی او د خلکو د ژوند خوندیتوب تضمین دی.

د یادونې وړ ده چې د دې ډول کانټینرونو ځای پر ځای کول د بېړنیو حالاتو په مدیریت کې مهم ګام بلل کېږي او ځایي وګړو یې پراخ هرکلی کړی دی.

د کندهار ولایت په سپین بولدک ولسوالۍ کې د ګبیون استنادي دیوال د جوړولو کار بشپړ او ګټې اخیستنې ته وسپارل شو

د عالیقدر امیرالمؤمنین حفظ الله د حکم پر بنسټ او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ملي اداري د لوی رئیس، محترم الحاج ملا نورالدین ترابي په لارښوونه، د کندهار ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست، د دې ولایت د سپین بولدک ولسوالۍ په شیرو اوبو کاریز کلي کې د ۵۳ متره په اوږدوالي او ټولټال د یو میلیون او شپږ شپېته زره او درې سوه پنځه اتیا (۱،۰۶۶،۳۸۵) افغانیو په ارزښت د ګبیون استنادي دیوال د جوړولو کار بشپړ کړ او د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۲۰ نېټه ګټې اخیستنې ته یې وسپاره.

د دې پروژې کارونه د ارزګان غزني ساختماني او لوجستیکی شرکت له لوري ترسره شول او د پروژې په بشپړېدو سره د دې سیمې لپاره د سېلاب له خطره څخه خوندیتوب رامنځته شوه.

د سیمې اوسېدونکو د پروژې د ګټې اخیستنې په پار خوښي وښووده او د هغوی د ځان او مال د خوندیتوب په برخه کې یې دا یو مهم ګام وباله او له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست څخه یې منته او قدرداني وکړه.

د میدان وردګ ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست ۱۰۴ اجباري راستنېدونکو کورنیو ته خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې

د میدان وردګ ولایت مقام د لارښوونې پر بنسټ، د یاد ولایت له پېښو سره د مبارزې آمادګۍ ریاست له ایران او پاکستان څخه په اجباري ډول راستنېدونکو ۱۰۴ کورنیو ته له سروې وروسته د ۱۴۴۷ کال د جمادی الآخر ۱۵ نېټه خوراکي او غیرخوراکي مرستې ووېشلې.

په دې لړۍ کې هرې کورنۍ ته ۱ بورۍ ۵۰ کیلویی اوړه، ۵ کیلو بوره، نیم کیلو تور چای، ۱ عدد هایجن کیټ، ۱ بسته ژمنۍ البسه، ۲۸ پاکټه د کلورین ټابلیت، ۲ جلده د لاس مینځلو لارښود او ۳۰ کسانو ته د پېښو په اړه د پوهاوي او د دې اداري د فعالیتونو په اړه بروشر ووېشل شول. همداراز ۱ باب لویه خیمه هم د کوتل پایتخت د کډوالو ښار ګوټي د مسجد شریف لپاره ملا امام ته ورکړل شوه.

عامه پیغامونه :

34. هېواد ته د راستنېدونکو کډوالو هېوادوالو لاسنیوی وکړئ, ځکه هغوی کلونه کلونه له هېواد څخه بهر د پردیسۍ ژوند تېر کړی

35. ترخو چې تاسو په سمه توګه موټر او موټرسیکل نه وي زده کړی اوږد سفر مه پرې کوئ, ځکه دا هم د تاسو او هم د نودو لپاره خطر دی

36. هر وخت چې ویده کېږئ، ګازي بخارۍ او نور ګازي وسایل بند کړئ، ځکه چې د مرګ خطر ورسره تړلی دی